# لنډيز

افغانستان په ۲۰۱۵ کې: د افغانستان د خلکو سروې په افغانستان کې د اسیا بنسټ د عامه نظرسنجۍ ۱۱مه کلنۍ سروې ده. دا سروې له ۲۰۰۴ راهیسې د افغانانو د نظرونو تر ټولو اوږده نظرسنجي ده چې د هېواد په کچه د۷۴،۳۴۰ افغانانو نظریات د هېواد د ودې او پراختیا اړوند یو لړ مسائلو باندې راټول شوي دي. ټول ارقام د اسیا بنسټ په ویبپاڼې باندې عامه وګړو ته په وړیا ډول د لاسرسي وړ دي.

سږکال د هېواد په ملي وضعیت کې د پام وړ بدلون رامنځته شو چې د ناامنۍ او متزلزل اقتصاد په تړاو ورځ تر بلې د خلکو انګیرنې منعکسوي. تېرکال د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د اعلان د مخه ډېری ځواب ورکوونکي د هېواد د لورې په هکله مثبت نظر درلوده او خوشبینه وو. د نوموړیو لانجه منو ټاکنو وروسته، د ۲۰۱۴ کال په سپټمبر کې د ملي یووالي حکومت تر نامه لاندې یو جوړښت رامنځته شو چې ورځ تر بلې ډېریدونکي امنيتي ګواښونو، وزګارتیا او ټکني اقتصاد (چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د نړیوالې ټولنې لخوا د پراختیایي بودیجو د نه ورکولو د پرېکړو له امله رامنځته شوی دی) له امله یې سیاسي سیالۍ لا ډېرې کړې.

د سږکال سروې چې ۹،۵۸۶ افغانانو پکې ونډه درلوده، ۵۰.۶ سلنه یې نارینه او ۴۹.۴ سلنه یې ښځینه ځواب ورکوونکي وو چې په کې ۱۴ توکمیزو ډلو او ۳۴ ولایتونو ښاریانو په کې ګډون درلود. د ۲۰۱۵ د جون له ۱۱ تر ۲۸، د ۹۳۹ تنو روزل شویو افغان سرشمېرونکو لخوا د جنډر په پام کې نیولو سره (یاني نارینه د نارینه سره او ښځینه د ښځینه سره) مخامخې مرکې وشوې. ټول سرشمېرونکي د خپلو اړوندو ولایتونو له اوسیدونکو سره مرکې وکړې. د افغانستان د سرشمېرنې مرکزي ادارې د ۲۰۱۵-۲۰۱۶ کال د نفوسو د وروستي ارقامو په کارولو سره، د سروې پایلې د هېواد په کچه د ټولو خلکو استازیتوب کوي. د سروې په بېلګه (سمپل)کې ۱۸ سلنه ښاري اوسیدونکې او ۸۲ سلنه د کلو اوسیدونکې شامل وو. سږکال د ۲.۵۳ ډیزاین تاثیر او ۹۵ سلنې باور او اطمینان له مخې د خطاء اندازه د احتمالي سمپل لپاره ۱.۶-/+ سلنه ده.

د نوموړي بنسټ د اوږدمهالې څېړنې همکاره اداره، د ټولنیز-اقتصادي او نظر څېړنو افغاني مرکز (ACSOR)، د سروې ساحوي کار او لوژستیک کارونه او د هغې اړوند مشر شرکت D3Systems د سروې څېړنیز او میتودولوژیکي ملاتړ په ښه توګه ترسره کړ. همدا راز د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴سروې ګانو په څېر، سږکال بیا د سیاره څېړنیز مرکز دا سروې د دریم اړخ په توګه وارزوله چې دا کار معمولاً د ستونزمنو سیمو د څېړنو د ارزونې لپاره کارول کیږي. بنسټ د خپلو همکارو ادارو سره یوځای د اعتبار او باوریتوب د پرنسیپونو پر بنسټ د کیفیت د تضمین بهیرونو ته ژمن دی. سږکال د افغانستان د خلکو په سروې کې یو شمېر نورې پوښتنې د سروې د موندنو د مهمو کارونکو په وړاندیز اضافه شول. نوې پوښتنې د ځوانانو اړوند ستونزو، له طالبانو سره روغې، د عراق او سوریې اسلامي دولت (داعش)، د ځمکماینونو حادثې او د ماینونو او جګړو له امله له ځپل شوو خلکو سره د دولت د مرستو، ښځې د مشرۍ په دندو کې او د موبایل ټیلفونونو له لارې ټولنیزو رسنیو ته د لاسرسي په تړاو د افغانانو نظریات سپړي. د دې راپور په لومړۍ ضمیمه کې د سروې د میتودولوژۍ په تړاو ژور بحث تر سره شوی دی.

## ملي وضعیت

- **د هېواد لوری:** په ۲۰۱۵ کې، د هېواد په کچه ۳۶.۷٪ ځواب ورکوونکي وايي چې هېواد یې په سم لور روان دی، په داسې حال کې چې دا شمېره په ۲۰۱۴ کال کې ۵۴.۷٪ ته رسیده. په تېرو لسو کلونو کې دا تر ټولو ټیټ ریکارډ ثبت شوی په داسې حال کې چې له ده یو کال مخکې د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال لوړ ریکارډ ثبت شوی وو. په ټوله کې، خوشبیني په ټولو سیمو کې ټیټه شوې ده، خو په کابل/مرکزي (۲۷.۸٪) او شمال لویدیځ (۳۰.۵٪) سیمو کې تر ټولو ټیټه ثبت شوې ده. سږکال، د هېواد د عمومي لورې په تړاو د هلمند ولایت اوسیدونکي تر ټولو ډېر خوشبینه (۶۲.۱٪) او د کابل اوسیدونکي تر ټولو لږه خوشبینه (۲۲.۵٪) ښيې.

- **د خوشبینۍ عوامل:** هغوی چې وايي هېواد یې پر سم لورې روان دی، دلایل یې بیارغونه (۳۱.۸٪) او ښه امنیت (۲۸.۵٪) بولي. هغه سلنه ځواب ورکوونکي چې ښه حکومتولۍ (۱۰.۵٪) ته اشاره کوي، د ۲۰۱۴ په پرتله ۴ سلنه پورته شوې ده. د مرکز/هزاره جاتو (۳۹.۹٪)، سویل لویدیځ (۳۳.۷٪)، او ختیځ (۲۹.۹٪) مېشت افغانان ښه امنیت ته د هغوی د خوشبینۍ د دلایلو په توګه اشاره کوي، حال دا چې نورو سیمو کې د خوشبینۍ اصلي لامل بیارغونه ګڼل کیږي.

- **د بدبینۍ عوامل:** د ۵۷.۵٪ افغانانو له ډلې چې وايي هېواد یې پر ناسم لورې روان دی، تر ټولو لوی لامل ناامني (۴۴.۶٪، چې د ۲۰۱۴ په پرتله شپږ سلنه پورته شوې ده)، بیا وزګارتیا (۲۵.۴٪)، فساد په عمومي توګه (۱۳.۰٪)، ټکنی اقتصاد (۱۲.۴٪)، او خرابه حکومتولي ګڼي. هغه سلنه چې وايي حکومتولي خرابه ده د ۲۰۱۴ (۴.۹٪) په پرتله پورته شوې ده، په داسې حال کې هغه سلنه چې وايي په ۲۰۱۵ کې له اداري فساده (۴.۶٪) ګېلې کوي، د ۲۰۱۴ (۹.۶٪) په پرتله ښکته شوې ده.

- **د افغانستان ستړې ستونزې:** د هېواد او سیمې په کچه. سږکال د هېواد په کچه لویه ستونزه خراب امنیتي وضعیت (۴۲.۷٪) وبلل شو چې له ۲۰۱۴ (۳۴.۱٪) نه پورته او د ۲۰۰۷ نه وروسته تر ټولو لوړه سلنه ده. د سیمې په کچه تر ټولو لویه ستونزه وزګارتیا (۳۱.۲٪) وبلل شوه. خو هغه سلنه خلک چې وايي د سیمې په کچه امنیتي حالات ښه نه دي (۲۲.۰٪)، د سروې له پیل څخه تر اوسه تر ټولو لوړه سلنه ده.

- **د ښځو په وړاندې سترې ستونزې.** د تېرو کلونو په څېر، افغانان وايي چې زده کړه او بې سوادي (۲۰.۴٪) او وزګارتيا/د دندو کمښت (۱۱.۳٪) د ښځو په وړاندې دوه سترې ستونزې دي. ليکن، د ۲۰۱۴ په پرتله ورځخه لږه يادونه شوې ده په داسې حال کې چې د هغو افغانانو سلنه چې د ښځو د حقوقو له نشتوالي يادونه کوي د ۲۰۱۴ (۶.۲٪) په پرتله په ۲۰۱۵ (۸.۷٪) کې پورته شوې ده. په ټوله کې، دواړو ښځو او نرانو د ښځو ورته ننګونو څخه يادونې وکړې خو د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي ته ښځو (۱۳.۰٪) نظر نرانو (۸.۱٪) ډيره يادونه کړې ده.

- **د ځوانانو په وړاندې سترې ستونزې.** د ټولو ولايتونو او هېواد په کچه د ځوانانو په وړاندې له وزګارتيا (۷۱.۴٪) څخه د سترې ستونزې په توګه يادونه وشوه. د هېواد په کچه، له وزګارتيا وروسته بې سوادي (۲۶.۵٪)، ټکنې اقتصاد (۱۵.۹٪)، د لوړو زده کړو محدودې فرصتونه (۱۵.۳٪)، او د مخدره موادو روږدېدنه نورې سترې ننګونې دي. د مرکز/کابل (۲۳.۵٪) او شمال لويديځ (۲۰.۲٪) اوسېدونکي ډېرى د لوړو زده کړو له اړتياوو يادونه کوي، په داسې حال کې چې د ختيځ (۳۶.۹٪) او سويل لويديځ (۳۳.۳٪) اوسېدونکي ډېرى د بې سوادۍ ستونزو ته ګوتې نيسي.

- **فردي خوشالي.** سره له دې چې د ۲۰۱۴ په پرتله د هېواد په کچه د دولت د لورې يا مسير په تړاو خوشبيني ډېره ټيټه شوې ده، خو بيا هم افغانان په عمومي توګه سږکال هم د ۲۰۱۴ په توګه له خپل ژوندانه راضي دي. سږ کال، ۷۴.۹٪ افغانان وايي چې دوی ډېر (۲۸.۶٪) يا لږ څه (۴۶.۳٪) خوشاله دي. که څه هم چې نران (۷۵.۶٪) او ښځې (۷۴.۳٪) تر ډېره بريده يو شان خوشالۍ اظهاروي، ښارمېشتې (۸۱.۲٪) بيا د کلو د اوسېدونکو (۷۲.۸٪) په پرتله ډېر خوشاله ښکاري.

## امنيت

- **د خپل خونديتوب په هکله وېره.** له دوه دريمې ډېر (۶۷.۴٪) افغانان وايي چې دوی تل، ډېر ځلې يا کله کله د خپل ځان د خونديتوب په تړاو وېرېږي، چې دا سلنه په ټوله لسيزه کې بې ساري وه. دا شمېره په سويل لويديځ (۸۴.۶٪) او سويل ختيځ (۸۱.۱٪) کې تر ټولو لوړه ده چې هلته د دولت ضد وسله والو ډلو سره ډېرې نښتې کيږي. خو بيا په لويديځه حوزه کې، د هغو افغانانو سلنه چې د خپل خونديتوب په اړه انګېرې، د ۲۰۱۴ په پرتله ۱۰ سلنه ښکته شوې ده (۶۸.۵٪).

- **د تاوتريخوالي يا جرم تجربه کول يا راپور ورکول.** کابو ۱۸.۲٪ افغانان وايي چې تېر کال دوی يا د دوی کورنۍ د يو تاوتريخوالي يا جرم قرباني شوي دي چې دا شمېره د ۲۰۱۴ (۱۵.۶٪) په پرتله پورته شوې ده. فزيکي حملې (۳۰.۹٪)، د څارويو غلا (۱۹.۴٪)، د ځان وژنې حملې (۱۹.۳٪)، په چل ول سره د پيسو تښتول يا غصبول (۱۷.۶٪) او وژل (۱۷.۰٪) د تاوتريخوالي يا جرم په وار وار برسيره شوي ډولونه وو. د تاوتريخوالي يا جرم د قربانيانو تر منځ، کابو دوه په دريو (۶۲.۰٪) کې يو بهرني (دريمګړي) ته راپور ورکړی دی. د هغو افغانانو شمېره چې د پېښو په اړه شوراګانو يا مشرانو ته راپور ورکوي، په ډېريدو دي (په ۲۰۰۶ کې له ۱۶.۰٪ څخه نيولې په ۲۰۱۵ کې تر ۳۷.۲٪ پورې)، خو بيا هم افغان ملي پوليس (۴۴.۷٪) د راپور ورکولو تر ټولو ښه مرجع ګڼل کيږي.

- **په افغان امنيتي ځواکونو باور.** د باور د ټولو معياورونو په کارولو سره، د سږکال سروې ښيې چې د افغان ملي پوليسو (۷۰.۰٪) په پرتله په افغان ملي اردو (۸۰.۸٪) ډېر باور شته دی. د تېرکال په پرتله، سږکال د افغان ملي اردو باور د ۲۰۱۴ (۸۱.۶٪) په پرتله له يوې سلنې لږه ښکته شوې ده، په داسې حال کې چې د افغان ملي پوليسو باور د ۲۰۱۴ (۷۳.۲٪) په پرتله درې سلنه رالويدلې ده. د افغانانو يوه لويه ډله په دې اند دي چې افغان ملي اردو (۸۲.۸٪) او افغان ملي پوليس (۸۰.۱٪) د خپلو کارونو د ترسره کولو لپاره د بهرني ځواکونو مرستې ته اړتيا لري، چې دا شمېرې د تېر کال په پرتله پينځه سلنې پورته شوي دي.

- **روغه.** کله چې په دې اړه وپوښتل شول چې ايا د دولت د مخالفو وسله والو ډلو سره روغه به په هېواد کې ثبات راولي، ۶۲.۶٪ افغانانو وويل چې هو، چې دا سلنه د ۲۰۱۴ (۷۲.۵٪) په پرتله د پام وړ ټيټوالی ښيې. د هغو افغانانو شمېره چې وايي د مخالفو وسله والو ډلو سره خواخوږي لري، د څو کلونو راهيسې په ثابته توګه ټيټه شوې ده، چې په ۲۰۰۹ کې ۵۵.۷٪ وه او په ۲۰۱۵ کې ۲۷.۵٪ ته رالويدلې ده. کله چې وپوښتل شول چې ولې مخالفې وسله والې ډلې له حکومت سره جنګيږي، له ۲۰۱۱ تر ۲۰۱۴ پورې تر ټولو معموله ځواب د بهرنيو ځواکونو شتون وو. خو سږ کال تر ټولو معموله ځواب دا وو چې مخالفې وسله والې ډلې ځواک او قدرت غواړي.

- **د وسله والو ډلو سره د مخامخ کيدو ډار.** افغانان وايي چې دوی په ترتيب د طالبانو (۹۲.۰٪) او لويديځ ځواکونو (۷۹.۵٪) سره له مخامخ کيدو زښت ډېر ډاريږي. په داسې حال کې چې د افغان ملي پوليسو (۴۵.۳٪) او افغان ملي اردو (۴۲.۲٪) سره له مخامخ کيدو لږ ډار لري.

- **د داعش په تړاو پوهه او د داعش ګواښ.** د ۷۴.۳٪ افغانانو له جملې څخه چې د داعش په اړه اوريدلي دي، کابو نيمايي (۵۴.۲٪) وايي چې دا ډله به اوس يا په راتلونکي کې د دوی د ولسوالۍ امنيت ته يو ګواښ وي.

- **ځمکماينونه.** شاوخوا يو پر دريمه (۳۳.۸٪) افغانان وايي چې هر کال دوی پخپله ټولنه کې د ځمکماينونو يا ناچاودو مهماتو لږ تر لږه

ځو پېښې ويني. د ماينونو او ناچاودو مهماتو تر ټولو ډېرې پېښې په سويل لويديځ او ختيځ سيمو کې ليدل کيږي.

## اقتصادي وده او ګومارنه

- **د کورنۍ اقتصادي وضعيت.** ډېرى افغانان وايي چې تېر کال (۲۱.۰٪) يې کورني اقتصادي وضعه د دې پر ځای چې ښه شي، سږ کال (۲۹.۷٪) خرابه شوې ده؛ پاتې ۴۹.۳٪ وايي چې د هغوی په کورني وضعيت کې څه بدلون نه دی راغلی.

- **کاري فرصتونه.** له نيمايي ډېر ځواب ورکوونکي (۵۵.۴٪) وايي چې سږ کال د هغوی د کورنۍ لپاره کاري فرصتونه کمې شوې وې، په داسې حال کې چې ۳۶.۵٪ وايي چې څه خاص بدلون نه دی راغلی، او پاتې ۷.۶٪ وايي چې د هغوی لپاره د ګومارنې په برخه کې ښه کال وو. هغه سيمې چې ډېر اغيزمن شوي دي عبارت دي له ښارونو په ځانګړې توګه کابل ښار (۷۳.۶٪ وايي چې کاري فرصتونه نشته) څخه چې د لوړو تنخواګانو دندې په کې کمې شوي دي او هغو ولايتونو او ولسواليو څخه چې د بهرنيو ځواکونو د سمبالونې او قراردادونو کارونه پرمخ وړل، په ځانګړې توګه د بلخ، پروان او پنجشېر ولايتونه. هغه سيمې چې لږ اغيزمن شوي دي عبارت دي له لرې پرتو ولايتونو څخه چې د هغوی اقتصادي وضعيت پر کرنې ولاړ دی لکه وردک او لغمان، خو نه په هلمند، کندهار او فراه کې ځکه چې هلته د کوکنارو توليد د بوټو د مرضونو له امله ښکته شوې وه.

- **د موادو شتون.** له يو پر دريمې (۳۸.۰٪) ډېر افغانان وايي چې د تېر کال راهيسې يې په بازارونو کې د موادو کچه کمه شوې ده. د يادونې وړ ده چې په ورته وخت کې د پاکستان سره د موادو تجارت هم لږ شوی دی.

- **سرمايه.** نيمايي (۵۳.۷٪) ځواب ورکوونکي وايي چې دوی خپله ځمکه لري او ۸۲.۳٪ وايي چې دوی لږ تر لږه په کور کې يو موبايل ټيلفون لري. د ښارمېشتو او کليوالو افغانانو د خبرو پر بنسټ هغوی بېلابېلې سرمايې لري، چې د برښنا او بازارونو د لاسرسي پر بنسټ سره توپير لري. ښارمېشتي افغانان د کليوالو په پرتله ډېرى مستهلکې لوازم لري لکه ټلويزيون، يخچال او د کالو مينځلو ماشين. خو بيا کليوال افغانان ډېرى خپلې ځمکې او څاروي لري.

## پراختيا او د خدمتونو عرضه

- **اوبه.** کله چې د يو لړ عامه خدمتونو په تړاو پوښتنه وشوه، راپورونه ښيي چې دواړه ښارمېشتي او کليوال افغانان د څښاک اوبو له لاسرسي (۷۱.۸٪) ډېر خوشاله دي. ډېرى افغانان اوبه له خپل شخصي يا ټولنيزو څاه ګانو لاس ته راوړي چې د هېواد په کچه يې شمېرې ډېرې شوي دي. د کرنې د اوبو په تړاو د ورځو په تېريدو سره د خلکو خوښې کمه شوې ده ځکه چې کرنه د افغانانو د معيشت او خوراک يوه لويه سرچينه ده او دا يوه لويه ستونزه ده.

- **برښنا.** ټولټال ۴۰.۲٪ ځواب ورکوونکي د برښنا څخه رضايت لري چې د ښار (۷۳.۴٪) او کلي (۲۹.۳) د اوسېدونکو تر منځ يوه لويه فاصله ليدل کيږي. په سويل لويديځ او سويل ختيځ سيمو کې چې د تاوتريخوالو له امله ځپل شوي دي، برښنا ته لاسرسی په اوسط ډول د تېر کال راهيسې خرابه شوې ده (په ترتيب سره ۵۶.۰٪ او ۵۴.۰٪). کابل او کندز يوازينې دوه ولايتونه دي چې له ۶۰٪ ډېر اوسېدونکي يې د برښنا څخه خوښ ښکاره کوي.

- **سرکونه.**د سرکونو په تړاو رضايت (۴۵.۶٪) ډېرى په ښاري سيمو او حلقوي سرکونو پورې متمرکز دي. کابل مېشت او شاوخوا ولايتونو ډېرى افغانان د سرکونو له لاسرسي خوشاله دي. په ټوله کې، د ۱۳ ولايتونو ډېرى اوسېدونکي وايي چې دوی د سرکونو له زيربناوو خوشاله دي، خو د پاتې ۲۱ ولايتونو ډېرى اوسېدونکي بيا وايي چې دوی له شته سرکونو خوشاله نه دي.

- **زده کړه (پوهنه).**زده کړه او پوهنه د افغانستان د اقتصادي او ټولنيز پراختيا لپاره ډېره مهمه ده، په داسې حال کې چې ۵۴.۵٪ ځواب ورکوونکي وايي چې دوی رسمي يا کورنۍ زده کړې نه دي کړي چې دا شمېرې د ښځو او نرانو په منځ کې ډېر لوی توپير لري (۳۷.۸٪ نران او ۶۹.۳٪ ښځې). په اوسط ډول ۶۷.۸٪ ځواب ورکوونکي په خپلو سيمو کې د زده کړې له کيفيته خوشاله دي. ډېرى ښارمېشتي افغانان (۸۰.۱٪) د کلو د اوسېدونکو (۶۳.۷٪) په پرتله ډېر راضي ښکاري. د ۲۰۱۴ په پرتله په ۲۰۱۵ کې په ټولو سيمو کې له زده کړې رضايت ټيټ شوی دی. په کابل/مرکزي سيمو کې افغانان د خپلو ماشومانو د زده کړې په برخه کې تر ډېره بريده خوشاله دي (له ۸۷.۱٪ څخه ۷۷.۹٪ ته ښکته شوې ده). عموماً له ځلورو ولايتونو پرته د نورو ټولو ولايتونو ډېرى ځواب ورکوونکي د خپلوماشومانو له زده کړې ډېر يا يو څه خوشاله وو. رضايت د نورستان (۴۱.۴٪)، غور (۴۷.۸٪) او فراه (۴۸.۵٪) په ولايتونو کې تر ټولو ښکته وو.

- **روغتيايي پاملرنه.** ټولټال ۴۹.۱٪ ځواب ورکوونکي وايي چې دوی د روغتونونو او کلينيکونو له لاسرسي ډېر يا څه نا څه خوشاله دي، او ۴۲.۴٪ وايي چې د درملو له لاسرسي رضايت لري. د کليوالو افغانانو تر منځ يوازې ۴۴.۳٪ ځواب ورکوونکي د خپلې سيمې له کلينيکونو او روغتونونو او ۳۸.۳٪ د درملو له لاسرسي خوشاله دي. له بلې خوا بيا ډېرى ښارمېشتي افغانان د کلينيکونو او روغتونونو (۶۳.۵٪) او د درملو له لاسرسي (۵۴.۶٪) خوشاله ښکاري. ډېرى (۳۶.۷٪) افغانان وايي چې دوی د کورنۍ روغتيايي حالت د تېرکال په پرتله ډېر خراب دی.

- **د پراختیایي پروژو او تمویل کوونکو په تړاو پوهه.** ټولټال ۵۸.۴٪ ځواب ورکوونکي (د سروې کوونکو لخوا د مختلفو سکتورونو د پروژو له لړلیک څخه) لږ تر لږه د یوه پراختیایي پروژې په تړاو مالومات لري چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې د هغوی په سیمه کې پلې شوې دي. سړکونه او پلونه (۳۰.۳٪)، د څښاک اوبو پروژې (۲۳.۲٪)، او نوي جوماتونه هغه پروژې دي چې د ډېریو ځواب ورکوونکو لخوا پېژندل شوي دي. کندز، سمنګان، غور، لغمان او لوګر هغه ولایتونه دي چې ډېری ځواب ورکوونکي یې د څو سیمه ایزو پراختیایي پروژو په تړاو ډېر پوهاوی درلوده. کله چې د سیمې د پراختیایي پروژو د تمویل کوونکو په تړاو وپوښتل شول، ډېری افغانانو په ترتیب سره له افغان دولت (۲۴.۵٪)، متحده ایالاتو (۲۲.۶٪)، جاپان (۱۱.۹٪) او هندوستان (۱۱.۱٪) څخه یادونه وکړه. پاتې ۱۰.۹٪ وايي چې دوی خپله د پروژو د پلي کولو لپاره پیسې ورکړې دي.
- **مهاجرت.** د ۲۰۱۱ په پیل کې، دا سروې له ځواب ورکوونکو وپوښته چې د فرصتونه پر مهال به له افغانستانه مهاجر شي. سږکال ۳۹.۹٪ افغانان وايي هو، چې دا سلنه د ۲۰۱۱ (۳۳.۸٪) په پرتله پورته ده، په داسې حال کې چې پاتې ۵۷.۹٪ وايي نه. هغه افغانان چې هو وايي ډېری په مرکز/هزاره جاتو (۴۷.۴٪) او لویدیځ (۴۴.۲٪) کې اوسیږي، په داسې حال کې هغه خلک چې لږ تمایل لري، په سویل لویدیځ کې اوسیږي (۲۶.۲٪).

## حکومتولي

- **د حکومت له اجراآتو رضایت.** سږکال د ځواب ورکوونکو رضایت د کابو ټولو حکومتي بنسټونو په برخه کې ډېر ټیټ شوی دی. د هغو افغانانو نسبت چې د ملي حکومت له کارونو خوشاله دي له ۲۰۱۴ (۷۵.۳٪) نه ۲۰۱۵ (۵۷.۸٪) ته ډېره ټیټه شوې ده. د ولایت، ولسوالۍ او ښاروالۍ حکومتونو له اجراآتو هم رضایت کم شوی دی. د ښاروالۍ د حکومت په تړاو هم د افغانانو رضایت له ۲۰۱۴ (۶۱.۰٪) په پرتله په ۲۰۱۵ (۴۷.۲٪) کې ټیټ شوی دی، چې دا سلنه تر ټولو ټیټه شمېره خپله کړې ده.د یادونې وړ دی چې د یو شمېر دولتي چارواکو اعتبار هم ټیټ شوی دی. په پارلمان باندې د افغانانو د اعتبار کچه سږکال (۴۲.۴٪) د تېرکال (۵۱.۰٪) په پرتله ټیټه شوې ده، تر دې چې د خپلې سیمې د پارلمان پر غړو هم د اعتبار کچه ټیټه شوې ده (له ۵۱.۵٪ نه په ۲۰۱۴ کې تر ۴۲.۹٪ پورې په ۲۰۱۵ کې). د دې په پرتله بیا د رسنیو (۶۶.۶٪) او مذهبي مشرانو (۶۴.۳٪) اعتبار ډېر پورته دی.
- **ټاکنیز بنسټونه.** سږکال (۳۶.۴٪) د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعتبار د ۲۰۱۴ (۶۶.۴٪) په پرتله له نیمایي ډېر ښکته لویدلی دی. د۲۰۱۴ سروې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو له اعلان، د ټاکنیزو صندوقونو د بیاشمېرنې، او د ملي یووالي حکومت له جوړیدو دمخه په لاره اچول شوې وه. د ټاکنو د شکایاتو د خپلواک کمیسیون اعتبار بیا تر دې هم ټیټ (۳۴.۷٪) راپور ورکړل شوی دی. د ټاکنو د شکایاتو د خپلواک کمیسیون اعتبار بیا د ښارمېشتو (۳۰.۱٪) په پرتله د کلو د اوسیدونکو (۳۸.۳٪) تر منځ پورته دی.
- **فساد.** سره له دې چې حکومت د فساد د مخنیوې لپاره هڅې کوي، خو بیا هم ۸۹.۹٪ افغانان وايي چې فساد د هغوی په ورځني ژوند کې (۶۱.۱٪ وايي چې دا یوه لویه ستونزه ده او ۲۸.۸٪ وايي چې کوچنۍ ستونزه ده) یوه ستونزه ده، چې دا سلنه په ټوله لسیزه کې تر ټولو پورته ثبت شوې ده. هلمند (۸۴.۸٪) او کابل (۸۱.۳٪) هغه دوه ولایتونه دي چې ډېری اوسیدونکي یې وايي چې فساد یوه لویه ستونزه ده په داسې حال کې چې د پنجشېر لږ اوسیدونکي (۱۱.۰٪) بیا په دې نظر دي. سږکال له نیمایي ډېر (۵۳.۳٪) افغانانو چې د تېر کال په جریان کې له پولیسو سره اړیکې درلودې وايي چې پولیسو ته یې رشوت ورکړی دی، چې دا شمېره له ۲۰۱۴ (۴۵.۱٪) پورته او د ۲۰۱۱ (۵۳.۴٪) کال لوړ ریکارډ یې مات کړ. د ښاروالۍ/ولسوالۍ (۶۶.۰٪)، قضا او محکمې (۶۳.۴٪)، ګمرک (۶۱.۲٪) او ولایت مقام (۶۰.۹٪) کارمندانو، د دندو د درخواستۍ (۵۸.۷٪)، د عامه برښنا د تامین (۵۴.۹٪)، افغان ملي پولیس (۵۳.۳٪)، عامې روغتیا خدمات (۵۲.۶٪)، افغان ملي اردو (۴۳.۲٪)، او ښوونځي/پوهنتونونو ته د داخلې لپاره د رشوت ورکولو کچه په ۲۰۱۵ کې پورته شوې ده.
- **د شخړو فیصله کول.** له ۲۰۰۷ راهیسې د ستونزو د هوارې په موخه دولتي محکمو ته تګ په کراره اما ثابته توګه لوړ شوی دی. مګر افغانان د ستونزو د هوارې په موخه (د ستونزو او شخړو په پام کې نیولو سره ) یو لړ رسمي او غیررسمي ځایونو ته مراجعه کوي. د ځمکو یا اوبو د لانجو په خاطر، ځواب ورکوونکي بیا بیا وویل چې دوی د سیمې د شورا مشرانو ته مراجعه کوي (په ترتیب سره ۴۷.۰٪ او ۲۴.۴٪ ځواب ورکوونکي). د کورني ستونزو د حل لپاره بیا افغانانو ډېر ځلې وواېه چې له ملګرو او کورنیو مرسته غواړي (۲۹.۹٪ ځواب ورکوونکي). د روغتیایي پاملرنې په موخه افغانان بیا بیا وايي چې رسمي ادارو ته مراجعه کوي چې ۳۰.۳٪ له حکومتي ادارو او ۱۰.۵٪ د ولسوالۍ له مقاماتو یادونه وکړه. سږکال ۲۱.۵٪ ځواب ورکوونکو یوه شخړه یا رسمې قضیه درلوده چې دوی ونتوانیدل پخپلو منځو کې حل کړي تر دې چې مجبور شول د حقوقو ریاست یا شورا/جرګې ته مراجعه وکړي. تر ټولو معمولې قضیې د ځمکو پر سر شخړې (۴۲.۲٪) او کورني ستونزې (۱۶.۷٪) وې.

## سیاسي مشارکت

- **بنسټیزې سیاسي ازادۍ.**د ۲۰۱۴ سروې په لړ کې چې د افغان ولسمشریزو ټاکنو وروسته سمدلاسه په لاره واچول شوه، افغانانو د رای ورکولو پر مهال نسبتاً لږه وېره درلوده (۴۵.۸٪). سږ کال (چې یو انتخاباتي کال هم نه دی) دا سلنه ۵۵.۶٪ ته پورته شوې ده چې دا شمېره تر ټولو پورته ثبت شوي سلنې ته نږدې ده (۵۹.۵٪ په ۲۰۱۰ کې). د رای ورکولو پر مهال وېره په هزاره جات/مرکزي سیمه کې

تـــر ۳۲.۳٪ ټيټـــه او ســـويل لويديځ کې تـــر ۶۸.۷٪ پورتـــه ده. د رای ورکولو پر مهـــال ويرې سربېره د هغو افغانانو ســـلنه چې وايي د ســـوله ايــز لاريون لـــه ګډونه ويريـــږي (۶۹.۱٪) هـــم د ۲۰۱۴ په پرتله لږ څه پورته شـــوې ده. ســـرکال هم د هغو افغانانو ســـلنه چـــې وايي د يو مقـــام لپاره له د ځـــان له نوملو ډاريـــږي (۷۲.۸٪)، د تېرو کلونو له شـــمېرو سره ســـمون خوري.

- **لـــه ډموکراســـۍ رضايت او پر ســـيمه ايـــز حکومت اغيـــزې.** د هغو افغانانو ســـلنه چې وايي د افغانســـتان لـــه ډموکراتيک بهيـــره ناراضه (۵۷.۲٪) دي د ۲۰۱۴ (۷۳.۱٪) پـــه پرتلـــه ډېره ټيټه شـــوې ده چې دا د تېرې لســـيزې را پديخوا تر ټولو ټيټه ســـلنه ده. ســـرکال (۴۴.۵٪) د تېر کال (۵۵.۹٪) پـــه پرتلـــه د هغـــو افغانانو ســـلنه هم راټيټه شـــوې ده چـــې وايي د ســـيمه ايز حکومت پـــر پريکړو اغيزه لري چـــې دا هم د تېـــرې لســـيزې را پديخوا تر ټولو ټيټه ثبت شـــوې ســـلنه ده.

- **مذهـــب او سياســـت.** ډېـــری افغانـــان (۶۲.۸٪) وايـــي چې مذهبـــي مشران بايد په سياســـت کې ښـــکېل وي. په ټولو ســـيمو کـــې د هغو اوســـېدونکو شـــمېره چې د مذهب او سياســـت له يوځـــای کولو ملاتـــړ کـــوي د ۲۰۱۴ (۶۴.۹٪) په پرتله ټيټه شـــوې ده. مګر په تېرو لســـو کلونو کې د دې پوښـــتنې پـــه تړاو ځوابونـــو د پام وړ بدلـــون درلود.

- **ښـــځې او ټاکنـــې.** د هېـــواد په کچـــه ۵۰.۱٪ (په ۲۰۱۴ کې ۵۶.۰٪) اوســـېدونکي وايي چې ښـــځې بايـــد د رای ورکولو پر مهـــال خپله پريکړه وکـــړي، ۲۷.۴٪ وايي چې ښـــځې بايد د نرانو سره مشـــوره وکـــړي، او ۲۱.۹٪ وايـــي چې نران بايد د ښـــځو لپاره پريکړه وکـــړي. د هغو ځواب ورکوونکو شـــمېره چې وايي ښـــځې دې پـــه ټاکنو کې خپله پريکـــړه وکړي، په ســـويل لويديځ کې له ټيټې (۲۹.۸٪) ســـلنې نيولـــې په هزاره جاتو/مرکـــزي ســـيمې کې تـــر لوړې (۶۸.۴٪) ســـلنې توپير لري. کـــه د ولايتونو په کچـــه ځوابونه تحليـــل شي نو نور توپيرونه هم تر ســـترګو کيـــږي، لکـــه د پنجشـــير ولايت ۸۰.۹٪ ځـــواب ورکوونکي وايي چې ښـــځې بايد د ځـــان لپاره خپله پريکړه وکړي په داســـې حـــال کې چې د زابل ولايـــت ۱۰.۵٪ ځواب ورکوونکي پـــه دې آند دي.

## مالوماتو ته لاسرسی

- **د خبرونـــو او مالوماتـــو سرچينـــې.** راډيو (۷۵.۵٪) په افغانســـتان کې د مالوماتـــو د لاسرسي تر ټولو پراخه کاروونکي وســـيله بلـــل کيږي او تر هغې وروســـته بيـــا ټلويزيون (۶۱.۶٪)، موبايل ټيلفـــون (۵۰.۳٪)، جومات (۴۸.۳٪) او د ټولنې شـــوراګانې (۳۷.۴٪) ډېـــر کارول کيږي. له وخت سره د مالوماتـــو د حاصلولـــو په برخـــه کې ټلويزيـــون او انټرنټ خپل اعتبار لوړ کړی دی. د راپور پر بنســـټ، ښـــځې د خبرونـــو او مالوماتو دا سرچينـــې د نرانـــو پـــه پرتله کم کاروي مګـــر يوازې ټلويزيـــون دی چې دواړه نران او ښـــځې يې په يوه انـــدازه ګوري.

- **د موبايـــل ټيلفـــون ملکيت.** ډېـــری ځواب ورکوونکـــي (۸۲.۳٪) وايي چـــې په کورنۍ کې لـــږ تر لږه يو موبايـــل ټيلفون لري چې دا شـــمېره پـــه ۲۰۰۷ کې ۴۱.۵٪ ته رســـيده. د شـــخصي اســـتفادې له امله بيـــا ډېر نران (۷۰.۷٪) د ښـــځو (۳۱.۱٪) پـــه پرتله خپل شـــخصي موبايل لري.

- **د ټلويزيـــون درلـــودل او ليدل.** په ۲۰۱۵ کـــې د هغو ځواب ورکوونکو شـــمېره چې وايي خپـــل ټلويزيون لري ۶۲.۱٪ ته پورته شـــوې ده حال دا چـــې دا شـــمېره په ۲۰۰۷ کې يوازې ۳۶.۹٪ ته رســـيده. کله چې وپوښـــتل شـــول چې کـــوم پروګرامونه ډېـــر ګورئ، افغانـــان وايي چې د شـــپږو بجو خبرونه (۳۳.۸٪)، ټلويزيونې ډرامـــې (۲۵.۸٪)، مذهبي پروګرامونه (۴.۰٪)، او ســـپورټي پروګرامونـــه (۳.۱٪) ډېر ګوري.

- **انټرنـــټ تـــه لاسرســـی.** د انټرنټ کارول ورځ تـــر بلې ډېريږي. پـــه ۲۰۱۳ کې، ۳.۲٪ ځـــواب ورکوونکو ووايـــه چې دوی انټرنـــټ د خبرونو او مالوماتـــو لپاره کاروي. ســـرکال، دا شـــمېره ۹.۶٪ ته لوړه شـــوې ده. د هېواد پـــه کچه کابو يو په هـــرو پينځو ځواب ورکوونکـــو (۲۱.۰٪) کې وايـــي چـــې په کورنۍ کې يې داســـې څوک شـــته چـــې انټرنټ ته لاسرســـی لري.

## ښځې او ټولنه

- **د ښـــځو لپاره مرســـتې.** شـــاوخوا يو څلورمه (۲۳.۴٪) ځواب ورکوونکي له داســـې يوې ادارې خبر دي چې له ښـــځو سره د هغوی په ســـتونزو کـــې مرســـتې کوي چې دا شـــمېره د مخکـــې کلونو په پرتله پورته شـــوې ده. د ښـــار اوســـېدونکي (۲۸.۱٪) د کلو د اوســـېدونکو (۲۱.۹٪) په پرتله د ښـــځو د مرســـتندويه ادارو له ځايونو ډېر خبر دي. کابو نيمايي ځواب ورکوونکي (۴۵.۷٪) د ښـــځو چارو رياســـت ته، په داســـې حال کـــې چې ۹.۷٪ د ولســـوالۍ مقام او ۹.۰٪ د بشري حقونو قونســـل/ادارې ته اشـــاره کوي.

- **محاکمـــو ته لاسرســـی.** ټولټـــال ۴۷.۰٪ افغانان چـــې قضيې يې محکمـــو ته تللي دي، وايـــي چې محکمه د ښـــځو او نرانو سره يوشـــان چلند کـــوي. د يادونـــې وړ ده چې ښـــځې (۵۱.۱٪) د نرانو (۴۳.۱٪) پـــه پرتله ډېر په دې نظر دي چې محکمې له ښـــځو او نرانو سره يوشـــان چلند کـــوي. د ځـــواب ورکوونکو تـــر منځ د هغو شـــمېره چې يوه قضيه يې شـــورا يا محکمـــې ته وړاندې کـــړې، ۶۷.۲٪ پـــه دې موافقه لري چې د ښـــځو شـــورا يا جرګه هم بايد شـــتون ولري.

- **دود او کلتوريـــز عملونـــه.** ډېـــری افغانـــان (۸۰.۵٪) د بدو له عمـــل سره مخالف دي چـــې خپله لور د يو ګناه د ســـزا يا پيســـو په بدل کې بلـــې ډلـــې ته ورکوي. لـــه دې لږ څو ډېـــری (۶۴.۷٪) د بدل له عمـــل سره مخالف دي چـــې لونې د يو بـــل کورنيو ته واده کـــوي. په دواړو

حالاتـــو کـــې د بشري حقونـــو انګېرنه دا ده چې لونې ښـــايي د هغـــوی له اقراره پرتـــه واده ته مجبور کـــړل شي. په ورته وخـــت کې، ٨۷.٨٪ ځـــواب ورکوونکـــي پـــه دې موافقه لـــري چې لور د خپـــل متوفی پلار څخه میـــراث وړلی شي چې دا حـــق ورته د اســـلامي شريعت له مخې ورکړل شوی دی.

- **پـــه عامه ځايونو کې د ښـــځو کالي اغوســـتل.** له دريمـــې برخې ډېر افغانـــان (٣٥.١٪) وايـــي چې بُرقه د کور نه بهر د ښـــځو لپـــاره تر ټولو ښـــه کالي دي او لـــه هغـــې وروســـته بيا ٢۷.۷٪ وايـــي چې نقاب (يـــو ډول حجاب چې له ســـترګو پرته ټول مـــخ په کې پټ کيږي) ښـــه کالي دي. يـــوازې ١.٢٪ افغانـــان پـــه دې آند دي چې ښـــځې کولای شي په عامـــه ځايونو کې لـــه حجابه پرته تـــګ او راتګ وکړي.
- **مـــشري.** د مشرۍ د بســـتونو په برخـــه کې بيا افغانان اکـــثراً په دې نظر دي چې ښـــځه کولای شي د ولســـوالۍ پراختيايي شـــورا (۷۴.۴٪) کې کار وکـــړي خـــو دا چې ښـــځه دې د ولســـمشرۍ (۵٢.٩٪) لپاره ځان کانديده کـــړي، موافقت نه لري. ډېـــرى افغانان پـــه دې موافقه لري چې ښـــځې بايـــد وکولای شي د حکومـــت د وزيرې يا د کابينـــې د غـــړې (۵٨.۵٪)، د ولايـــت د والي (۵۷.۶٪)، يا د يو لوی شرکـــت د عاملې مشرې پـــه توګـــه خدمت وکړي. ليکن، په ســـياسي مشرۍ کې د ښـــځو د برابر اســـتازيتوب ملاتـــړ د ٢٠٠٨ (۵١.١٪) نه تـــر ٢٠١۵ (۴٣.۶٪) پورې ټيټه شوې ده.
- **زده کـــړه.** ډېـــرى افغانان (۷٨.٢٪) وايي چـــې دوی موافق دي چې ښـــځو او نرانو ته د تعليم او زده کړې يوشـــان فرصتونه برابرې شـــی. مګر د ٢٠٠۶ (۵٨.۵٪) راهيســـې تـــر ٢٠١۵ (٣۷.٨٪) پـــورې د زده کـــړې پـــه برخه کې د جنډر د مســـاوات څخـــه ملاتړ په ثابته توګه ټيټ شـــوی دی. ډېـــرى افغانـــان (٩٣.۶٪) لـــه دې څخـــه په جدي يا تر يـــوې کچې ملاتړ کوي چې ښـــځې دې د زده کړې لپاره اســـلامي مدرســـو، لومړني ښـــوونځيو (٨۴.۵٪)، لوړ (عالي) ښـــوونځيو (٨٢.٨٪)، او پخپـــل ولايت کې پوهنتـــون (۷٣.٨٪) ته برابر لاسرسي ولري. ځـــواب ورکوونکي له دې څخـــه ډېر ملاتـــړ نه کوي چې ښـــځې دې د خپل ولايـــت (۴٨.٠٪) يا هېـــواد (٣۵.۵٪) څخه بهـــر زده کړې وکړي.
- **کار.** لـــه دريـــو دوه برخـــې افغانان (۶۴.٠٪) وايي چې ښـــځو ته بايـــد اجازه ورکـــړل شي چې له کوره د بانـــدې کار وکړي (۷٢.٩٪ ښـــځې او ۵٣.٨٪ نران). دا شـــمېره په ٢٠٠۶ کې ۷٠.٩٪ وه چې د وخت سره ســـم ښـــکته شـــوې ده. د هغو ځواب ورکوونکو شـــمېره چې وايي ښـــځې د کورنۍ/کهـــول په عايد کې مرســـته کوي پـــه ترتيب سره لـــه ٢٠٠٩ (١٣.۶٪) څخه پـــه ٢٠١۵ کې ٢٢.۶٪ ته پورته شـــوې ده.
- **کارځايونـــه.** کلـــه چې د ښـــځو د کارځايونو په تړاو وپوښـــتل شـــول، ډېـــرى افغانانـــو (٨۵.۷٪) وويل چې يوازې په ښـــځينه ښـــوونځيو کې کار کـــول د منلـــو وړ دي، او له هغې وروســـته بيا پـــه روغتونونو يـــا کلينيکونو (٨٣.۷٪)، حکومتـــي ادارو (۷٠.۷٪) او د هلکانـــو او نجونو ګډ ښـــوونځيو (۶۶.۵٪) کـــې کار کول ســـم دي. لږو ځـــواب ورکوونکو بيا لـــه دې سره موافقه وکړه چې ښـــځې دې په انجوګانـــو (۴۴.٢٪)، اردو يا پوليـــس (۴١.۴٪)، يـــا په يو شـــخصي شرکـــت (٣۴.٨٪) کې چې ښـــځې او نران سره ګـــډ کار کوي، دنـــدې ترسره کړي.